دعوت
خپرندویه ټولنه

ذهني ازمېښت

# ذهني سوالونه او ځوابونه

۲ ټوک

عاشق الله قائل

# ذهني سوالونه او ځوابونه

(دويم ټوک)

عاشق الله قائل

دعوت
خپرندویه ټولنه

## ځانګړنې:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | **ذهني سوالونه او ځوابونه** (دویم ټوک) |
| ټولوونکی: | عاشق الله قائل |
| کمپوز/ډیزاین چارې: | شریف الله (للمه وال) ۰۷۸۷۳۳۷۵۸۵ |
| خپرندوی: | دعوت خپرندویه ټولنه |
| چاپ کال: | ۱۳۹۳ل/۲۰۱۴م |
| چاپ لړ: | ۳۲ |
| چاپ شمېر: | ۱۰۰۰ |
| چاپوار: | لومړی |



**د بیا چاپ حقونه له خپرندوېې ټولنې سره خوندي دي**


# د ترلاسه کولو پتې


**دعوت کتاب پلورنځی:** اساقزی مارکیټ، لاندېنی پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان
اړیکشمېرې: ۰۷۷۲۰۹۷۹۲۵ - ۰۷۹۴۰۸۷۲۷۲ - ۰۷۹۲۱۵۰۰۵۱
**تقوی کتاب پلورنځی:** اساقزی مارکیټ، لاندېنی پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان
اړیکشمېرې: ۰۷۷۲۰۹۷۹۲۵ - ۰۷۹۴۰۸۷۲۷۲ - ۰۷۹۲۱۵۰۰۵۱

بسم اللہ الرحمن الرحیم

# ډالۍ

ګرانې مور ته، چې په سپېڅلو شیدو یې
روزلی یم.
خپل مشر ورور قاري سبحان الله وقار ته
چې، زما په پالنه کې یې د هیڅ ډول
ستړیا احساس نه دی کړی.

عاشق الله قائل

# سریزه

ډېر دشکر ځای دی چې الله جل جلاله ددې توفیق راکړ چې ذهني سوالونه او ځوابونه دوهم ټوک مو برابر کړ او ستاسې تر لاسونو مو درورساوه.

زمونږ به تل هڅه او کوښښ داوي چې دخپلو زده کوونکو او محصلینو ورونو دذهنونو د پراختیا لپاره دغه لړۍ روانه وساتو، د ذهني سوالونو او ځوابونو په لوستلو سره ذهن قوي کېږي، ځکه ذهني سوال قوي ذهن جوړوي او بیایې قوي ذهن حلوي، محترم لوستونکي دې اول په خپل ذهن کوښښ وکړي او بیا دې یې ځواب ته وګوري ترڅو دلوستونکو ذهن معلوم شي چې څومره استعداد لري، د ذهني سوال او معلوماتي سوال ترمنځ فرق وي ذهني سوال د ذهن په قوت او استعداد حلیږي او معلوماتي سوال دپخوانیو معلوماتو او تجربو په درلودلو حلیږي، خو د ډېر افسوس ځای دی چې په دغې نومونو داسې کتابونه راووتل چې نومونه یې ورته په هره ژبه کې پیداکړي، مګر د ذهني او معلوماتي سوالونو ترمنځ فرق نه شي کولای، په اخر کې دټولو هغه ملګرو څخه مننه کوم چې ددغې کتاب په را ټولولو کې یې راسره مرسته

کړې ده چې ددغې جملې څخه ښاغلي مولوي صاحب محمدرقیب مصباح او احمدشاه مینه ناک زماسره ډېره مرسته کړې، الله جَلَّ جَلَالُهُ دې ورته اجر عظیم ورکړي کور يې ودان.

داچې انسان کمزوری دی او تل دنیمګړتیاوو سره مخامخ وي نو زما څخه به هم په نوموړي کتاب کې تیروتنه شوي وي که دلوستلو پرمهال مو کومه نیمګړتیا تر سترګو شوه، دمهربانۍ له مخې دعوت خپرندویه ټولنې ته خبر ورکړئ چې په راتلونکې چاپونو کې يې اصلاح کړي.

داسلامي نظام دراتګ په ارمان

عاشق الله (قایل)

**پوښتنه:** هم مې زوی هم مې ورور دی دا څنګه کېدای شي.

**ځواب:** ځوی مې ځکه دی چې له ما څخه پیدا شوی او ورور مې داسې دی چې ما او ځوی ته مې یوې ښځې شیدې راکړي یعنې رضاعي ورور مې دی.

**پوښتنه:** هم مې د ماما ځوی دی او هم مې ورور دی، دا څنګه کېدای شي.

**ځواب:** د ماما ځوی مې حقیقي دی او ورور مې په دې نسبت دی چې مور مې ورته شیدې ورکړي.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې په هره لاره تللی شي حتی په غره هم ختلای شي، مګر په لرګو او بوټو کې هم نه شي تلای.

**ځواب:** مېږی.

**پوښتنه:** یو پاچا ته درې نفر ورغلل یوه ورته وویل: چې لور دې راکړه، بل ورته وویل: چې زېره دې کموم او دریم ورته وویل: چې باغ کې دې ونه وهم نو پاچا دغه درېواړو ته باید کومه خبره وکړي چې د دغه درې واړو پوښتنو ته ځواب وایي مګر خبره به یوه خبره کوي.

**ځواب:** دغه خبره داده چې (ورړه ده) چې لومړی کس به ووایي چې لور یې ورړه ده، دویم به وایي چې زېره یې ورړه ده او دریم به وایي چې ونه ورړه ده.

**پوښتنه:** یو سړي بل سړی ونیوه چې د هغې سره چرګ هم و، نو ده ورته وویل: چې وژنم دې خو ته دا چرګ په داسې طریقه ووژنه چې ته په هغې طریقه مړ نه شي.

**ځواب:** نو موړی سړی دی چرګ ته په سر غاښ

ولګوي.

**پوښتنه:** يوه غوا ده شل منه، شيدې کوي دا څنګه کېداى شي.

**ځواب:** د غوا وزن شل منه دى او شيدې کوي چې هرڅومره کوي زمايې څه.

**پوښتنه:** پاچا يو سړى ونيو ورته يې وويل: چې د دريو پوښتنو ځواب په يوه جمله کې راکړه کنه نو وژنم دې.

١- په انسانانو کې دې څوک بدې راځي.

٢- په حيواناتو کې دې کوم حيوان بدې راځي.

٣- په ميوو کې دې کومه ميوه بدې راځي.

**ځواب:** هندو په خر سور دى املوک خوري.

**پوښتنه:** هغه څه شى دى چې ورته وايې چې مه راځه راځي او چې ورته وايې چې راځه نه راځي.

**ځواب:** دغه شوندې دي چې کله وايي چې راځه نو خلاصې شي او چې وايي مه راځه نو بندي شي.

**پوښتنه:** هغه څه شى دى چې څومره يې کشکوې نو لنډېږي.

**ځواب:** سګرټ.

**پوښتنه:** هغه کوم پيغمبر دی چې واده یې نه دی کړی.

**ځواب:** عیسی علیه السلام

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې نیم الله جل جلاله جوړ کړی او نیم د انسان په واسطه الله جل جلاله جوړ کړی دی.

**ځواب:** خرګاډی سره د خره.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې پوستکی یې د ننه او غوښه یې بهر ده.

**ځواب:** د چرګانو شاتینګه.

**پوښتنه:** هغه کوم لمونځ دی چې یو اذان وشي او وروسته بیا اذان هم وشي مګر دغه لمونځ نه قضا کېږي.

**ځواب:** د جمعې لمونځ ځکه چې دوه اذانه ورته کېږي.

**پوښتنه:** د افغانستان د کوم پاچا په نوم کې ۸ واري د (م) حرف راغلی دی.

**ځواب:** امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد.

**پوښتنه:** یوه ښځه ده او دوه یې بچي دي، ښځه ٦ منه

او بچي يې هر يو ۳ منه دی، غواړي چې د سيند نه پورې وځي خو دوی سره يوه کشتی ده چې داکشتی د ۲منو څخه زيات وزن نه شي وړلای نو څنګه کولای شي چې دوی بلې غاړې ته واوړي سره له دې چې کشتی به دوی خپله چلوي.

**ځواب:** لومړی به يې زامن واوړي، يوه به ترې پاتې شي يو به کشتی بېرته راولي بيابه يې مور واوړي هغه ځوی چې مخکې پورې وتی ؤ هغه به کشتی راولي او دابل به له ځان سره کړي او وابه وړي.

**پوښتنه:** هغه کوم سبزي ده چې منځ يې سپين دی خو رنګ يې تور دی.

**ځواب:** تور بانجان.

**پوښتنه:** يو سړی دی ستا د کاکا ورور دی خو ستا کاکا نه دی نو ستا څه کېږي.

**ځواب:** پلار.

**پوښتنه:** هغه کوم اذان دی چې دلمونځ لپاره نه کېږي.

**ځواب:** د ماښوم په غوږ کې اذان.

**پوښتنه:** داسې څوک شته چې بې پلاره او بې موره پیدا شوی وي.

**ځواب:** آدم علیه السلام

**پوښتنه:** وچ کلک د کولمو ډک، څه شی دی.

**ځواب:** کټ او غلبېل.

**پوښتنه:** نه ستا ورور دی او نه دې خور ده خو ستا د پلار نه زیږېدلی دی.

**ځواب:** ته په خپله یې.

**پوښتنه:** د نرګس ګلدان د انسان د کوم اندام سره یو شان والی لري.

**ځواب:** د سترګو سره.

**پوښتنه:** د انسان په بدن کې هغه کوم هډوکي دي چې غوښه نلري.

**ځواب:** غاښونه.

**پوښتنه:** په یو لوی ډنډ کې یوه کشتۍ ولاړه ده چې د کشتۍ دیوې غاړې څخه څلور فټه مزی زوړند دی خو له اوبو نه یو فټ پورته ده که چیرې د اوبو سطحه په یو ساعت کې یو فټ پورته شي نو په درې ساعتونو کې به د پړي څو مره برخه په اوبو کې ډوبه شي.

**ځواب:** مزی په خپل حال پاتې کېږي ځکه چې داوبو سطحه لوړېږي نو کشتۍ هم پورته ځي.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی شنې جامې دي يې، سره يې بريتونه او ډېر لري غاښونه.

**ځواب:** د جوارو وږی.

**پوښتنه:** هغه کوم ډول خواړه دي چې خرڅول يې ناروا مګر خوړل يې روا دي.

**ځواب:** دقربانۍ غوښه.

**پوښتنه:** دماما د زوی مور دماما د پلار څه کېږي.

**ځواب:** اينګور.

**پوښتنه:** دهندوانو هديره په کوم ښار کې ده.

**ځواب:** هندوان هديره نه لري.

**پوښتنه:** کچره په کال کې څو بچي زيږوي.

**ځواب:** کچره بچی نه زيږوي ځکه هغه داسې وي لکه نرښځی.

**پوښتنه:** چرګ د ورځې څو هګۍ اچوي.

**ځواب:** چرګ هګۍ نه اچوي.

**پوښتنه:** يو پاچا سلام، سليم او امين وغوښته او

ورته یې وویل: چې دا دوه بېلچې واخلئ خو په یوه میاشت کې به پرې هریو کس ۲۰ ورځې کار کوي کنه نو ټول وژنم نو دوی به څه کوي.

**ځواب:** لومړی به سلام او سلیم ۱۰ ورځې بېچلې استعمال کړي بیا به سلام امین ته ورکړي نو پاتې شل ورځې به یې امین استعمال کړي نو سلیم چې ۱۰ ورځې نوره استعمال کړه نو هغه به یې سلام ته ورکړي نو حساب به جوړ شي.

**پوښتنه:** یو کس اوبو یوړو نو پاس بل کس چغې کړې چې ورور مې اوبو یوړو خو هغه کس چې اوبو روان کړی ؤ غږیې کړ چې دا پاس کس زما ورور نه دی نو دایې څه کېږي.

**ځواب:** دا یې خور ده.

**پوښتنه:** هغه کوم لمونځ دی چې په فاسد کېدو سره یې قضاء نه لازمیږي.

**ځواب:** داختر لمونځ.

**پوښتنه:** د بسم الله لفظ ویل په کوم وخت کې کفر دی.

**ځواب:** په قطعي حرامو شيانو کې لکه: غلاکول، شراب څښل، زنا کول او نور...

**پوښتنه:** هغه چې پلرونه يې شته مړه کېږي او چې پلار يې نشته ژوندي دي نو موږ کس څوک دي.

**ځواب:** عيسی عليه السلام ځکه چې هغه بې پلاره پيدا شوی او الله جل جلاله اسمان ته پورته کړی او تراوسه ژوندی دی.

**پوښتنه:** هغه کوم ډول خواړه دي چې آدم عليه السلام په ټول عمر کې نه دي خوړلي.

**ځواب:** د مور شيدې.

**پوښتنه:** يوه کوټه ده او د کوټې په هر يو کونج کې يوه پيشو ده او د هرې پيشو مخې ته ۳ پيشوګانې دي معلوم کړئ چې په کوټه کې ټولې څو پيشوګانې دي.

**ځواب:** ټولې څلور پيشوګانې دي ځکه د هرې پيشو مخې ته په درې کونجونو کې يوه يوه پيشو ده نو ټولې څلور شوې.

**پوښتنه:** ماهي په ټول عمر کې څومره هګۍ اچوي.

**ځواب:** ماهي هګۍ نه اچوي بلکې بچي زيږوي.

**پوښتنه:** هغه کوم حروف دي چې دهرې خوا څخه ولوستل شي يو ډول تلفظ کېږي.

**ځواب:** واو، ميم، نون.

**پوښتنه:** هغه کومه مېوه ده چې مختلفې برخې سره يو ځاى کړي دافغانستان بيرغ ور څخه جوړيږي.

**ځواب:** هندوانه: زړى يې تور، پوستکى يې شين او منځ يې سور دى.

**پوښتنه:** هغه کومه سبزي ده چې تکي نه لري.

**ځواب:** کاهو.

**پوښتنه:** د کونړ دکومې ولسوالۍ نوم ديو ډول مريضتيا نوم دى.

**ځواب:** پېچ ولسوالۍ دخېټې مرض دى.

**پوښتنه:** شپږ کولمې لري په ملاکې لکۍ لري دوه سينې لري داڅه شى دى.

**ځواب:** تله.

**پوښتنه:** هغه دکوم هېواد نوم دى چې بغير د قلم د اوچتولو څخه په مکمل ډول ليکل کېږي.

**ځواب:** مصر

**پوښتنه:** بند په بند هر بند يې لري خوند داڅه شى

دی.

**ځواب:** ګنی.

**پوښتنه:** تشه ځي ډکه راځي داڅه شی دی.

**ځواب:** د اوبو بوکه

**پوښتنه:** بې ستنو کوټه پکې پروت دی شهزاده.

**ځواب:** قبر او مړی.

**پوښتنه:** بابا دننه ږیره یې بهر داڅه شی دی.

**ځواب:** وږی.

**پوښتنه:** چې ځم دی پاتې کېږي داڅه شی دی.

**ځواب:** د پښو پل.

**پوښتنه:** چې زه ځم دی راپسې وي داڅه شی دی.

**ځواب:** د انسان خپل سیوری.

**پوښتنه:** څلور یې پښې دي، بې شمېره یې کولمې دي داڅه شی دی.

**ځواب:** کټ.

**پوښتنه:** زما پنځه ګلونه دي دوه په لمر کې دي او درې په سیوري کې داڅه شی دی.

**ځواب:** دغه پنځه وخته لمونځ دی.

**پوښتنه:** هغه کوم حیوان دی چې هم بچو ته شیده

ورکوي او هم هګۍ اچوي.

**ځواب**: شتر مرغ.

**پوښتنه**: هغه کوم مسجد دی چې محراب نه لري.

**ځواب**: کعبه شریفه.

نا اشنا سوال

**پوښتنه**: احمد، کمال او ساجد یو هوټل ته لاړل ډوډۍ یې وخوړه نو لومړی احمد هوټلي ته راغی ورته یې وویل: څو روپۍ شوې نو هوټلي ورته وویل چې په دخل کې روپۍ وشماره چې څومره پکې وې هماغومره پکې واچوه او ۱۰ روپۍ ترې واخله او ځه، بیا کمال راغی او ورته یې وویل چې څو روپۍ شوې، هوټلي ورته هماغه خبره تکرار کړه کومه خبره چې یې احمد ته کړې وه، بیا ساجد راغی او ورته یې وویل: چې څو روپۍ شوې نو هوټلي ورته وویل: چې په دخل کې روپۍ وشماره چې څومره پکې وې هماغومره پکې واچوه او ۱۰ روپۍ ترې واخله او ځه، کله چې هوټلي دخل وکاته نو دخل تش دی نو معلوم کړئ چې دلومړي

څل لپاره په دخل کې څو روپۍ وې.

**ځواب:** دلومړي ځل لپاره په دخل کې پاو کم نهه ۸،۷۵ روپۍ وې نو کله چې احمد همدومره روپۍ ورواچولې نو ټولې اولس نيمې ۱۷،۵ شوې، کله چې يې ترې ۱۰ روپۍ واخيستې نو ۷،۵ پاتې شوې، کله چې ساجد راغی نو هغې په کې ۷،۵ روپۍ واچولې نو ټولې ۱۵ شوې چې ۱۰ يې ترې واخيستې نو ۵ پاتې شوې، چې قاري قدرت الله راغی نو ۵ يې په کې نورې واچولې نو ۱۰ شوې او چې ۱۰ يې ترې واخيستې نو دخل تش پاتې شو.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې شپه او ورځ ګرځي خو دمه نه کوي.

**ځواب:** ساعت.

**پوښتنه:** سپين سری دی سور يې کفن دی او خړې قبر دی داڅه شی دی.

**ځواب:** مميلي.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې د ورځې وي او د شپې نه وي.

**ځواب:** لمر دی.

**پوښتنه:** دوه کوټې دي په یوه کې سعیدالله او ملګري او په بله کې عصمت الله او ملګري سعیدالله عصمت الله ته وایي که ستاسو څخه یو نفر مونږ ته راشي نو مونږ به ستاسو دوه چنده کېږو او عصمت الله سعیدالله ته وایي که ستاسې نه یو نفر مونږ ته راشي نو مونږه سره مساوي کیږو نو معلوم کړئ چې په دغو کوټو کې څو نفر دي دعصمت الله دوی څخه چې یو نفر لاړ شي نو سعیدالله دوی ۸ شو او عصمت الله دوی ۴ چې اته دڅلورو ۲ چنده دي او که د سعیدالله دوی څخه یو نفر عصمت الله دوی ته ورشي نو دواړه به پنځه پنځه برابر شي.

**ځواب:** د سعیدالله سره ۷ نفر او د عصمت الله سره ۵ نفر دي.

**پوښتنه:** هغه کوم فرض دي چې د سړي څخه پاتې شي مګر قضایي پرې نه لازمیږي.

**ځواب:** د جمعې د ورځې لمونځ.

**پوښتنه:** هغه کوم ځای دی چې د اوبو په منځ کې اور بلیږي.

**ځواب:** دا د اوبو د جوش کولو سماوار دی.

**پوښتنه:** هغه کوم ځای دی چې دخاورې څخه اور راوځي.

**ځواب:** دا د اتشفشان غرونه دي.

**پوښتنه:** که یې خورم نو ګناهګار یږم او که یې نه خورم نو وږی کیږم معلوم کړئ چې دا څه شی دی.

**ځواب:** روژه ده.

**پوښتنه:** هغه کوم حشرات دي چې نسبت نور بدن ته یې دماغ غټ وي.

**ځواب:** میږي.

**پوښتنه:** عیسی علیه السلام په لاندې کوم میلادي کال کې وفات شوی: ۱۹۲م ۱۹۵م ۲۰۰م.

**ځواب:** عیسی علیه السلام نه دی وفات شوی.

**پوښتنه:** په یو شان ارتفاع کې یو من او سپنه درنه ده او که یو من بوس.

**ځواب:** په یو شان ارتفاع کې دواړه سره مساوي دي.

**پوښتنه:** یو سړی د جنازې لمونځ کوي کله چې سجدې ته لاړ نو په تندي کې یې اغزی لاړه تندی یې وینې شو او دس یې مات شو او کنه.

**ځواب:** د جنازې لمونځ کې سجده نشته.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې په ثانیه او دقیقه کې پیدا کیږي مگر په ساعت کې نه پیدا کیږي.

**ځواب:** د (ي) توری.

**پوښتنه:** هغه کوم انسان دی چې کافر او مسلمان ته په یوه سترګه ګوري.

**ځواب:** دیوې سترګې خاوند.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې رنګ یې شین دی خو که په اوبو کې یې واچوي نو رنګ یې سور شي.

**ځواب:** نکریزي.

**پوښتنه:** یو سړي خپله ښځه نکاح کړه او دغه نکاح صحیح هم ده سره له دې چې سړي ته ښځه نکاح کول روا نه ده نو دا څنګه کېدای شي.

**ځواب:** کله چې یې ښځه مړه شي نو بیا ورته ښځه روا کېږي.

**پوښتنه:** د جمیل کلیمې د اول او اخرې حرف ترمنځ څو مره فاصله لري.

**ځواب:** میل.

**پوښتنه:** کړه وړه په غره خته څانګه یې ترخه خو مېوه یې خوږه داڅه شی دی.

**ځواب:** د شاتو مچی.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې لمده یې ننباسي مګر بیرته یې وچه راوباسي.

**ځواب:** ډوډۍ ده چې تنور کې پخیږي.

**پوښتنه:** هغه کوم ځناور دی چې کولمې نه لري.

**ځواب:** کیشپ.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې اول یې نه ګورو، چې ویې ګورو اخلو یې نه او چې وایې خلو نو اغوندو یې نه او چې وایې غوندو نو اوباسو یې نه.

**ځواب:** کفن دی.

**پوښتنه:** یو سړي بل ته وویل: چې زه په سرباندې یوه لوښه او به اچوم نو زما به یو ویښته هم نه لمدیږي نو داڅنګه کیدای شي.

**ځواب:** نو موړي سړي سر تازه خریلی او په سر یې

يوه وېښته هم نه ؤ.

**پوښتنه:** کټونه دي او کسان دي که چيرې په هر کټ کې يو يو کس کينې نو يو کس اضافه کيږي او که چيرې دوه دوه کيني نو يو کټ اضافه کيږي نو معلوم يې کړئ چې څو کسه او څو کټونه دي.

**ځواب:** څلور کسان دي او دري کټونه دي.

**پوښتنه:** هغه کوم لمونځ دی چې سرتور سر کول يې کفر دی.

**ځواب:** دا هر لمونځ کيدای شي هر کله چې دلمانځه د سپکوالي له وجې سرتور سر ودريږي نو بيا کفر دی.

**پوښتنه:** هغه کومه سجده ده چې کله وکړی شي نو لمونځ ورسره ماتيږي.

**ځواب:** هغه سجده ده چې په هغې کې پښې دځمکې نه او چتې کړي.

**پوښتنه:** سعودي عربستان څخه يوې طيارې پرواز وکړ خو دميدان مشر طيارې چلوونکي ته وويل: که چيرې په دوبۍ کې دميدان اشارې مړې وې نو نه به کيني او که

لګېدلې وې نو کېښې به څو کله چې طياره ميدان ته ورسيده ګورې چې اشارې مړې کېدې او ګل کېدې نو څه به کوي.

**ځواب:** ګل کېدې او مړې کېدې يو شی شو نو نه به کېښي.

**پوښتنه:** په دري کې د سلات يو ډول دی که لو مړی توری ترې لرې شي د يو حيوان نوم ترې جوړيږي.

**ځواب:** کاهو دی چې (ک) ترې لرې کړې نو آهو شو.

**پوښتنه:** ستاسې په کور کې د يو کس لقب دی که چيرې سرچپه کړای شي نو د يو اروپايي هېواد پلازمينه ترې جوړيږي.

**ځواب:** لقب عبارت دی له مور څخه چې سرچپه شي نو د ايټاليا مرکز (روم) ترې جوړيږي.

**پوښتنه:** څادر ډېر لوی دی ټولو لي يې نشم ځونډي يې ډېر دي شمارلی يې نه شم داڅه شی دی.

**ځواب:** آسمان.

**پوښتنه:** هلته لرې دلته لرې سريې سنګارو کې لرې داڅه شی دی.

**ځواب:** زانګو.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې یو دی دوه کېږي نه.

**ځواب:** الله جل جلاله دی.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې د وه دي درې کېږي نه.

**ځواب:** شپه او ورځ.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې درې دي څلور کېږي نه.

**ځواب:** لوح، قلم، کرسي.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې څلور دي پنځه کېږي نه.

**ځواب:** تورات، انجیل، زبور، قرانکریم.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې پنځه دي شپږ کېږي نه.

**ځواب:** کلمه، لمونځ، روژه، زکات، حج.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې شپږ دي اوه کېږي نه.

**ځواب:** ۷-اسمانونه او ۷-ځمکې الله جل جلاله په شپږو ورځو کې پیدا کړي.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې اوه دي اته کېږي نه.

**ځواب:** د هفتې ورځې ۷ دي.

**پوښتنه:** هغه کوم اته دي چې نهه کېږي نه.

**ځواب:** د قیامت په ورځ به عرش ۸ ملایکو پورته

کړی وي.

**پوښتنه:** هغه کوم نهه دي چې لس کېږي نه.

**ځواب:** په مدینه کې ۹ قبیلو فساد کاوه.

**پوښتنه:** هغه کوم لس دي چې یوولس کېږي نه.

**ځواب:** بې وسه حاجي چې د قربانۍ وسه نلري نو ۱۰ روژې به نیسي ۳ په مکه مکرمه کې او ۷ په کور کې.

**پوښتنه:** هغه کوم یوولس دي چې دولس کېږي نه.

**ځواب:** د یوسف علیه السلام ورونه ځکه هغه ۱۱ وو.

**پوښتنه:** هغه کوم دولس دي چې دیارلس کېږي نه.

**ځواب:** کال ۱۲ میاشتې لري.

**پوښتنه:** داسې کوم شی دی چې په جنت کې به نه وي.

**ځواب:** مرګ، حسد، نجاست، بوډاوالی.

**پوښتنه:** انسان په څو ډوله پیدا شوی.

**ځواب:** په څلور ډوله پیدا شوی:

۱- د خاورې نه آدم علیه السلام.

۲- د سړي څخه بي بي حوا د آدم علیه السلام د پښتۍ څخه.

۳- یوازې د ښځې څخه عیسی علیه السلام.

۴- نور ټول انسانان د سړي او ښځې څخه.

**پوښتنه:** هغه کوم ډول انسانان دي چې خوراک او څښاک کوي مګر نه لوی او دس ماتوي او نه وړوکی.

**ځواب:** جنتیان.

**پوښتنه:** یو شاګر سره ۲۰ روپۍ دي غواړي چې غټې او وړې کتابچې پرې واخلي که ۱۳ غټې او ۱۱ وړې کتابچې پرې واخلي نو یوه روپۍ بله هم باید ولري او که ۱۱ غټې او ۱۳ وړې کتابچې واخلي نو یوه روپۍ ورسره پاتې کېږي نو دیوې غټې او یوې وړې کتابچې قیمت به څو وي.

**ځواب:** غټه کتابچه په ۳ روپۍ او وړه په ۲ روپۍ ده.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې غوږونه نیسي او په پوزه ودریږي.

**ځواب:** چشمې (عینکې).

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې بنده یېویني او الله

تعالی یې نهویني.

**ځواب:** خوب، مرګ، مور او پلار.

**پوښتنه:** هغه کومه نقلیه وسیله ده چې یو کس په کې دی او څلور یې چلوي.

**ځواب:** جنازه.

**پوښتنه:** هغه کوم شی دی چې خوري یې ډیرېږي او چې نه یې خوري کمېږي.

**ځواب:** روژه.

**پوښتنه:** په آسمان کې یو، جنت کې څلور او دوزخ کې دوه دي.

**ځواب:** نقطې (ټکي).

**پوښتنه:** یو ښار دی شنه یې دیوالونه دي سره په کې کورونه دي او خلک یې تور دي داخه شی دی.

**ځواب:** هندوانه.

**پوښتنه:** یو سړی یو کتاب په ۳۰ روپۍ اخلي او په ۲۰ روپۍ یې خرڅوي پس د یو کال څخه سړی میلونر کېږي داڅنګه کېدای شي.

**ځواب:** یو کال مخکې میلیاردر و.

**پوښتنه:** ۳ نفر دیوې ویالې څخه پهلاندې ډول

تیریږي:

اول کس: او به ویني او پښې یې هم لمدیږي.

دویم کس: او به ویني خو پښې یې نه لمدیږي.

دریم کس: نه او به ګوري او نه یې پښې لمدیږي، دا څنګه کېدای شي.

**ځواب:** لومړی کس یوه ښځه ده دوهم یې په غیږه کې ماشوم دی او دریم یې په خېټه ماشوم دی.

**پوښتنه:** هغه کوم ځای دی چې ښار په کې شته خو کوزونه په کې نشته، ځنګل دی، ونې په کې نشته، سیندونه په کې دي خو او به په کې نشته.

**ځواب:** نقشه ده.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې کاسه ده دغمو څخه ډکه ده خو کله چې سهار راوېښ شوم یو هم په کې نه ښکاري.

**ځواب:** ماښام کې په اسمان کې ستوري.

**پوښتنه:** هغه کوم حیوان دی چې پرته د ذبح کولو

څخه حلالیږي.

**ځواب:** ماهي چې مړ شي حلال دی.

**پوښتنه:** هغه کومه وینه چې مرداره نه ده.

**ځواب:** د جیګر او لړمون وینه.

**پوښتنه:** په عامه دنیا کې یو، په افغانستان کې دوه او په پاکستان او جاپان کې یو یو دی داڅه شی دی.

**ځواب:** د (ن) توری.

**پوښتنه:** په محنت کې تر ټولو مخکې مګر په علم او تعلیم کې تر ټولو وروسته داڅه شی دی.

**ځواب:** د (م) توری.

**پوښتنه:** هغه کوم سړی دی چې لاسونه یې کراچۍ ته رسیدلي او پښې یې په جلال اباد کې دي.

**ځواب:** کراچي وان.

**پوښتنه:** یوه ونه ده دولس شاخونه لري په هر شاخ کې یې دیرش پاڼې دي په هره پاڼه کې پنځه ګلونه دي په پنځه ګلونو کې دوه دلمر لور ته او درې سوري ته دي داڅه شی دی.

**ځواب:** یو کال دولس میاشتې دي، په هره میاشت

کې ۳۰ ورځې دي او هره ورځ کې پنځه لمونځونه دي دوه لمر ته او دري سوري ته دي.

**پوښتنه:** دجنت کونجي څه شی دی.

**ځواب:** دجنت کونجي (لااله الاالله محمد رسول الله) کلمه او لمونځ دي.

## معلوماتي ذهني سوالونه

## تر ټولو لومړی

**پوښتنه:** دنړی ترټولو لوی ساعت په کوم ځای کې دی.

**ځواب:** مکه مکرمه کې.

**پوښتنه:** په افغانستان کې تر ټولو لومړی دکوم پوهنځي بنسټ کېښودل شو.

**ځواب:** د طب پوهنځي.

**پوښتنه:** دافغانستان لومړی جمهور رئیس څوک و.

**ځواب:** سردار محمد داؤد خان.

**پوښتنه:** ترټولو څخه وروستی صحابي کوم یو و چې وفات شو.

**ځواب:** حضرت ابو الطفیل رضي الله عنه.

**پوښتنه:** د رسول الله ﷺ دجنازې امام څوک و.

**ځواب:** د رسول الله ﷺ جنازه انفرادي (يو ازې يو ازې) شوې وه.

**پوښتنه:** لومړنی انسان څوک و.

**ځواب:** آدم عليه السلام.

**پوښتنه:** لومړی سنت ګيري چا وکړه.

**ځواب:** ابراهيم عليه السلام لومړی خپل ځان سنت کړ.

**پوښتنه:** لومړی ډوډۍ ماتول چا کړي دي.

**ځواب:** ابراهيم عليه السلام

**پوښتنه:** کعبې شريفې ته لومړی غلاف چا وروا غوسته

**ځواب:** د يمن بادشاه تبع چې اسعد حميري نومېده.

**پوښتنه:** لومړی قاتل څوک ؤ.

**ځواب:** قابيل

**پوښتنه:** لومړی جنتي کس څوک دی.

**ځواب:** حضرت محمد ﷺ.

**پوښتنه:** کعبې شريفې ته لومړی د وربښمو غلاف چا وروا غوسته.

**ځواب:** حجاج بن يوسف.

**پوښتنه:** لومړی مهاجر (هجرت کوونکی) څوک ؤ.

**ځواب:** ابراهیم علیه السلام.

**پوښتنه:** لومړی روژه دار (روژه نیوونکی) څوک ؤ.

**ځواب:** آدم علیه السلام

**پوښتنه:** لومړۍ ښځه چې مسلمانه شوه څوک وه.

**ځواب:** خدیجة الکبری رضي الله عنها.

**پوښتنه:** په ځمکه لومړی کوم غر کېښودل شو.

**ځواب:** جبل ابي قیس.

**پوښتنه:** لومړی تحریري امتحان چا رامنځته کړ.

**ځواب:** چینایانو.

**پوښتنه:** د ټولې ځمکې لومړی بادشاه څوک ؤ.

**ځواب:** نمرود ؤ.

**پوښتنه:** تر ټولو لومړی چا زغره جوړه کړه.

**ځواب:** داؤد علیه السلام.

**پوښتنه:** د بدر غزا لومړی شهید څوک ؤ.

**ځواب:** مهجع بن عبدالله رضي الله عنه.

**پوښتنه:** تر ټولو لومړی چا د خښتو بټۍ جوړه کړه.

**ځواب:** فرعون.

**پوښتنه:** په عجمي ژبه لومړی چا تفسیر ولیکه

**ځواب:** شاه ولي الله رحمة الله عليه.

**پوښتنه:** لومړی جراحي عملیات د چا وشو او چا وکړ.

**ځواب:** ملایکو د رسول الله ﷺ جراحي عملیات وکړ.

**پوښتنه:** د شرک په رد کې لومړی نبي څوک ؤ.

**ځواب:** نوح علیه السلام.

**پوښتنه:** د جنتیانو لومړی خوراک به څه شی وي.

**ځواب:** د ماهي جیګر.

**پوښتنه:** د ځمکې پرمخ لومړی عبادتځای کوم یو ؤ.

**ځواب:** کعبه شریفه.

**پوښتنه:** د اسلام لومړی مسجد کوم دی.

**ځواب:** د قبا مسجد.

**پوښتنه:** رسول الله ﷺ ته لومړی منبر چا جوړ کړ.

**ځواب:** یوې ښځې.

**پوښتنه:** د احادیثو لومړی کتاب چا ولیکه.

**ځواب:** امام مالک رحمة الله عليه د موطا په نوم.

**پوښتنه:** تر ټولو لومړی کشتۍ چا جوړه کړه.

**ځواب:** نوح علیه السلام.

**پوښتنه:** تر ټولو لومړی په مخلوقاتو کې څه شی پیدا شوی.

**ځواب:** قلم.

**پوښتنه:** په قرانکریم کې د کوم صحابي نوم راغلی دی.

**ځواب:** زید رضي الله عنه.

**پوښتنه:** تر ټولو زیات ښایسته انسان څوک ؤ.

**ځواب:** یوسف علیه السلام.

**پوښتنه:** تر ټولو زیات ښکلی آواز د چا و.

**ځواب:** د داؤد علیه السلام.

**پوښتنه:** تر ټولو غښتلی حکومت د ځمکې پر مخ چا کړی دی.

**ځواب:** سلیمان علیه السلام.

**پوښتنه:** ماشوم د پیدا کېدو څخه څو مره وخت وروسته داوښکو بهولو سره ژړا پیلوي.

**ځواب:** پنځه اونۍ وروسته.

**پوښتنه:** فیل څو غاښونه لري.

**ځواب:** ۳۲ غاښونه.

**پوښتنه:** اوښ څو غاښونه لري.

**ځواب:** ۳۴ غاښونه.

**پوښتنه:** سپي څو غاښونه لري.

**ځواب:** ۴۲ غاښونه.

**پوښتنه:** په مرغانو کې تر ټولو غټې هګۍ کوم مرغه اچوي.

**ځواب:** شترمرغ.

**پوښتنه:** هغه کوم حیوان دی چې انسان ته ورته داوښکو په ژړا د غم اظهار کوي.

**ځواب:** فیل.

**پوښتنه:** تر ټولو زیات وزن لرونکی حیوان کوم دی.

**ځواب:** شین ماهي.

**پوښتنه:** په افغانستان کې چارسده دکوم ولایت ولسوالي ده.

**ځواب:** د غور ولایت.

**پوښتنه:** هغه کومې اوبه دي چې نه داسمان نه راوریدلي وې او نه دځمکې نه راوتلي وې.

**ځواب:** دا هغه اوبه دي چې سلیمان علیه السلام بلقیس ته لیږلې وې کله چې یې اسونه وځغلول او دهغې د پوزو نه راوتلې وې.

**پوښتنه:** هغه کوم شيان دي چې نه د مور نه پيدا دي او نه د پلار د شا څخه.

**ځواب:** آدم عليه السلام، بي بي حوا رضي الله عنها، د اسماعيل عليه السلام په بدل کې چې کوم پسه ذبح شو او د صالح عليه السلام اوښه

**پوښتنه:** هغه څه شی دی چې الله جل جلاله پيدا کړی او بيايې په تجارت باندې په بيعه واخيسته

**ځواب:** هغه د مسلمان نفس دی، لکه چې الله جل جلاله فرمايي: إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ

**پوښتنه:** هغه کوم آواز دی چې الله جل جلاله پيدا کړی او بيايې هم ورته بد ويلی.

**ځواب:** هغه د خر اواز دی.

**پوښتنه:** هغه کوم مخلوق دی چې الله جل جلاله پيدا کړی او بيايې خلک د هغه د لوی والي څخه ويرولي.

**ځواب:** هغه د ښځو مکر دی، لکه الله جل جلاله فرمايي: (ان کيد کن عظيم)

**پوښتنه:** په ښارويو کې بهترين ښاروی کوم يو دی.

**ځواب:** آس.

**پوښتنه:** هغه کوم بې ساه شی دی چې حج پرې نشته

مګر کله چې کعبې ته ورسیده نو طواف یې ورځخه وکړ.

**ځواب:** هغه د نوح علیه السلام کشتۍ وه کله چې اوبه کمې شوې او هغه کعبې ته نږدې شوه نو طواف یې ورځخه وکړ.

**پوښتنه:** لومړی جهادي بحري سفر د چا تر مشرۍ لاندې شوی دی.

**ځواب:** د معاویه ﷺ تر مشرۍ لاندې

---

## زیری

محترمو لوستونکو!

دعوت خپرندویه ټولنه په پام کې لري چې د ربښتیني ذهني سوالونو او ځوابونو لړۍ روانه وساتي، د ټولو ورونو څخه هیله کیږي که د چا ربښتیني ذهني سوالونه په یاد وي، نو دعوت خپرندویه ټولنې ته دې راواستوي، ترڅو د ذهني سوالونو او ځوابونو درییم ټوک چاپ ته چمتو کړي او یا په لاندې شمیرو له مونږ سره اړیکه ونیسئ.

په درنښت

اړیکشمیرې: ۰۷۷۲۰۹۷۹۲۵ - ۰۷۹۴۰۸۷۲۷۲ - ۰۷۹۲۱۵۰۰۵۱

خپل ذهنونه وازمايئ



- هغه کوم ځای دی، چې اور د اوبو د مینځ څخه راوځي؟
- هم مې زوی او هم مې ورور دی دا څنګه کېدای شي؟
- هغه څه شی دی، چې اووه دي اته کېږي نه؟
- هغه کوم لمونځ دی، چې سر تر سر کول يې کفر دی؟
- هغه کوم موټر دی، چې په کې یو ناست وي او څلور کسه يې چلوي؟

دعوت خپرندویه ټولنه

۰۷۹۲۱۵۰۰۵۱
۰۷۷۶۰۹۷۹۶۵
۰۷۹۴۰۸۷۶۷۶

Designed by: Abdul Hadi Asar







